# نوې هيله
Nawey Hilla

د تاسيس كال ۱۳۸۱ لمريز كال (۲۰۰۲ م)

دا خپرونه ستاسو د افكارو، نظرياتو او عقايدو ځرګندويه ده.
تاسو كولاى شى خپل نظريات اوعقايد ددې نشريې د لارې خپاره كړى.

په سويډن كښې دافغانانو دعلمي او فرهنګي مركز خپرونه     نشريه مركز علمي و فرهنګي افغانان در سويدن

| دوهمه ګڼه | ۱۳۸۱ لمريز كال سنبله او ميزان | NR. 2 | 2002 | September & Oktober |
|---|---|---|---|---|


## څنګه هيله ؟

انسان چي دتاريخي تكامل په ټول دوران كي د بدويت ددوران څخه نيولي بيا د تمدن تر عالي مدارجو پوري يې دځان سره هيلې درلودې البته دا هيلې په مشخصو زماني او مكاني شرايطو كي ځانته بيل، بيل ډولونه او خاصې ځانګړتياوې درلودې، چي دا هيلي به كله ډيرې ساده او كله به ډيرې لويې وي. د بيلګي په توګه دډيرو ساده خوړو، پوښاك ، د كارافزارو او وسايلو څخه نيولي بيا تر ډيرو ښو اودلوړ كيفيت درلودونكو خوړو، پوښاك، دكار افزارو او وسايلوپوري،خو ددي هيلو سره يو هميشنى نه جلاكيدونكئ توكئ چي په عين حال كي يي ددغو هيلواو غوښتنو دبشپړتيا او تكامل په پروسه كي په خپل واراغيزمن رول هم ښندئ هغه په مكاني اوكيفي لحاظ دانسانانو دپاره دآرامې فضاء، سوٌاله ژوند، د سرشاره، آباد او سمسور ټا ټوبي موجوديت دئ.

افغانان چي دټولنيز تكامل دقانونمندى په اساس د بشريت نه جلا كيدونكئ جز ګڼل ٌيږي، نود تاريخي جبرله مخي د ټولنيز تكامل اوانساني تمدن سخت ليوال او تل يي ددا ډول نووهيلو اوآرمانونو د سرته رسيدو په لاره كي هر ډول سرښندني كړي او كوي يي، هغه دا چي په هيوادكي يي سوله، آرامي، ثبات، جنګ ـ جګړه ختمه ، دفقر او وروسته پاتي والي لمنه ټوله ،د سيال سره سيال اودنوي نسل دپاره ټول هغه څه مهيا وي ٌوم چي دنړى دنورو پرمختللو سيالو هيوادو د ځوان نسل په برخه دي.

هو! زموږ د وطنوالو يوازنى هيله د تاريخ په دغه حساسه او خطيره مرحله ٌي داده چي ټول روښانفكره، پر وطن مين، سوله خوښونكي او ددموكراسى پلويان دهيواد په ددننه اوبهركي دتفاهم او يووالي په خاطردافغاني سپيڅلي روحيي په درلودلو سره پخپلوكي درښتني وروروليى او ملګرتيا لاسونه سره وركړي اودخپل ګران هيوادافغانستان و ټولو اړو خلكو ته د صادقانه خدمت كولو مصدر وګرځي، چي په دي صورت كي به يي نه يوازي خپله وطني ـ افغاني دنده ترسره كړي وي، بلكه خپل تاريخي رسالت بهيي هم سرته رسولئ وي.

موږ پهدي باورلروچي دسولي،دموكراسى اوپرمختګ پلويان دغې هيلي اوآرمان ته د رسيدو په لاره كي د هيڅ ډول تلاښونو او ځان تيريدني څخه ډډه نه كوي او حتمي برياوي يې په برخه دي.

« اداره »

## په مالموكي دهيواد دخپلواكى ورځ ولمانځل شوه

سږكال دلمړي ځل دپاره دسويډن دمالمو په ښار كي دافغانانو د علمي او فرهنګي مركز په نوښت دخپلواكى دبياتر لاسه كولو۸۳ كليزه دخاصو مراسمو په ترځ كي ونمانځل سوه.
د خپلواكئ دجشن په مراسمو كي تردوو سوو زياتو افغانانو او نورو مختلفو ميليتونو په سويډن كي دمختلفوسياسي ګوندونو، جريانانونو او فرهنګي ټولنواستازيتوب يې ٌاوه برخه اخيستي وه.
محفل د محترم االحاج مهتاب الدين«نظامي» دخوا د قرآن عظيم شان دځو مباركو اياتونو په لوستلو شروع سو، وروسته په سويډن كي دافغانانودعلمي اوفرهنګي مركزمشر ډاكتر خليل « صافي» دغونډې ګډون كونكوته ښه راغلاست ووايه اودخپلې پاتې ۷ مخ

## دعلمي اوفرهنګي ټولنو رول د ځوانانو په روزنه كي

څو لسيزي تيرې سويدي چي دسويدن هيواد او خلګو خپله ګرمه انساني غيږه ټولو هغو ٌورنيو اواشخاصوته خلاصه كړي كوم چي په خپل هيوادكي د مصو نيت او آرامى احساس نه كوي.
د ساړه جنګ او دهغه نه را وروسته كلنو كي د ناوړو سياسي ـ اجتماعي او اقتصادي شرايطو په وجه يو شمير كورنى دخپل هيواد څخه فرار ته مجبوري كړل سوي اوبهريي پرديو هيوادونو ته يي مهاجرتونه كړيدي.
د بده مرغه د مهاجرت پروسه په وروستيو وختونو كي زياته غښتلي سويده چي خپل ځانته معين دلايل لري ځكه دايوروښانه حقيقت دئ چي په دي وروسته كلونو كي ددريمي نړى د زيات شمير هيوادو روشنفكران او د هغوي كورنى د هيوادپرېښودلو ته مجبورسويدي چي زيات شمير يي په اروپايي هيوادوكي ځاي پر ځاي سويدي، كه څه هم په دي وروستيو كلونو كي داروپايي هيوادو دسياسي حالاتو په تغيريدوسره كله كله داسې ويل كيږي چي دا مهاجرتونه د اقتصادي مشكلاتو پر اساس په وجود راغلي دي هلته بايد په هغو هيوادو كي چي او سيدونكي يې اروپا ته مهاجرت كوي ددوئ سره مرستي وسي. په داسې حال كي چي د دغو مهاجيرينو زيات شمير كورنى دهغو ئ په هيوادو كي د سياسي ناخوالو او ديموكراسى د نه موجوديت له كبله فرار ته مجبور سويدي.
د سياسي مجبوريتونو له كبله دي چي ځينې كورنى د آسيا، افريقا اولاتيني امريكا دهيوادو حخه د زياتو سختو اوحتى غير انساني شرايطوپه منلو سره چي كله ناكله په سلهاوو انسانان نر، ښځي اوواړه ماشومان دسفرونو په وجه په لارو كي خپل شيرين ژوند له لاسه وركوي اوجسدونيي دبحرونوماهيان آويادځنګلونو پاتې ۸ مخ

و. « وا ري »

# په افغانستان کي د یوه ولسواک، پروطن مین، ترقي غوښتونکي او ملي ګټو ته وفادار اجتماعي سیاسي ځواک تاریخي ضرورت:

سوال دئ: دهیواد اوسنی سیاسي خلا کوم چې د ښیو او کیڼو افراطي ځواکونو، ډلو او سازمانونو دناکامو حاکمتونو څخه په میراث پاتې او یا په وجود راغلې ده څنګه باید ډکه شي؟

په داسې حال کې چې نړۍ د نولسمې او شلمې پیړیو په دوران کې ډېرو مهمو علمي، تخنیکي انکشافاتو او ټولنیزو پرمختګونو په درشل کې وه او ده. خو زموږ ګران هیواد ددغه دوران په اوږدو کې د ټولنیز ژوند په مختلفو ساحو کې د نړۍ وال تمدن او پرمختګ سره سمون ونه موند. په ډېرې خواشینې سره د افغانستان ډېره برجسته مشخصه او ځانګړتیا ددغو پیړیو په اوږدو کې بېله فقره، وروسته پاتې والي او د پرمختګ ډېر سست جریان څخه بل څه نه وه.

ډېر وچ اقلیم، بحر ته لاره نه لرل، غرنۍ سخت وضعیت، د حاصلخیزو ځمکو، څړځایونو، ځنګلونو او اوبو کمښت، جنګ، مقاومت او جهاد د بهرنیو یرغلګرو پر ضد، پر لپسې دوامداره کورنۍ جګړې، نا مساعد جیوپولیټیک موقعیت، نړیوال تجرید، دباثباته ـ مؤثر دولتي اداري نظام نه موجودیت، د هیواد داوسنی فقر او وروسته پاتې والي عمده سببونه ګڼل کیدای شي. هغه نه بیلیدونکې جز چې دفقر او وروسته پاتې والي سره ملګرې او زموږ د اولس په برخه دئ یو هم تریخ تاوتوب (خشونت) دئ، ښایي چې د همدغه علت په اساس وي چې ګران افغانستان د دوو تیرو پیړیو زیات وخت د کورنیو جګړو او مستبدو توتالیتارو رژیمونو داخ او ډب سره مخامخ، لاس او ګریوان وو.

د یادولو وړ ده چې فقر، وروسته پاتې والئ، جنګ او جګړه یوازې او یوازې افغاني پدیده نه ده، بلکه د نړۍ د نورو هیوادونو لکه سومالیا، سوډان، ایتوپیا، ایریتریا، یوګاندا، انګولا او کانګو په افریقا کې، همدا ډول کمپوچیا، سیرالانکا او شمالي کوریا په آسیا او دنیکا راګوای نوم په مرکزي امریکا کې یاد کړو. حتي د نړۍ په متوسط الحاله هیوادونو کې هم فقر د تریخ تاوتوب (خشونت) سره ملګرئ دئ: د شوروي اتحاد تر زوال وروسته د بالتیک جمهوریتونه او کراین، سپینه روسیه او فدرالي روسیه چې دژوند سطح یې نسبتاً لوړه وه په آسانۍ سره یې خپله د بیا جوړونې، انکشاف او مستقلانه پر مختګ لاره یې تعقیب کړه. مګر فقیرو جمهوریتونو لکه تاجکستان، ملداویا، آذر بایجان، آرمنستان او ګرجستان تر زیا ته حده دجګړې او خشونت سره مخامخ، لاس او ګریوان شول. په شرقي اروپا کې د کمونستي رژیمونو ترسقوط وروسته، ددوو آلمانونو (شرقي ـ غربي) یو ځایوالئ چې د نیم قرن په اوږدو کې یې تضاد او دښمني درلوده، د چک او سلواک جلاوالی یود بل سره، د هنګري، پولنډ او بلغاریا د هیوادونو غیر کمونستي کیدل بیله کوم اخ او ډب او وینې تویولو څخه تر سره شول. پداسې حال کې چې د بالقان په حوزه او د اروپا په جنوب کې یوشمیر نسبتاً فقیر تره هیوادونه لکه رومانیا، آلبانیا او یوګوسلاویا په مختلفو درجو سره په جنګ جګړه، خپل منځي اختلافاتو او تریخ تاوتوب کې را ښکیل کړل سوه.

د ډېرشمېر مثالونو په درلودلو سره ودې منطقي نتیجې ته رسیږو چې فقر او وروسته پاتې والئ په قانونمنده توګه په ټولنه کې دجنګ ـ جګړې او خشونت مقدماتي زمینې، شرایط او علتونه برابروي او بیا نو جګړه او خشونت دئ چې په خپل وار سره د ټولنې مادي او معنوي هستۍ لوټوي او د زیاتې وروسته پاتې والي او فقر باعث ګرځي.

یو بله پدیده چې د بشري ټولنو په سیاسي جوړښت کې د فقر او وروسته پاتې والي نه جلا کیدونکۍ جز ګڼل کیږي هغه د ښیو او کیڼو افراطي، رادیکالو، فاشستي، ناسیونالستي، فونډامنټالستي او تروریستي ګوندونو، جنبشونو او سازمانونو موجودیت او فعالیت دئ چې دجنګ ـ جګړې او تریخ تاوتوب دافزارو په حیث عمل کوي.

تېرو دوو پیړیو دا ډول نمونې او مثالونه دځان سره ثبت کړې دي. په هره اندازه چې هیوادونه د پرمختګ او سوکالۍ و لوری ته تللي دي په هغه اندازه افراطي (اکسترمستي) جنبشونو او ګوندونو خپل ځای وولسواکو، بردبارو او انسان غوښتونکو ګوندونو او سازمانونو ته په ټولنه کې پرېښې دئ.

یا په بل عبارت زموږ نړۍ ددې شاهدي نه ورکوي چې دهغې په هیڅ ګوټ او سیمه کې دې کوم ملت د پرمختګ او د ټولنیزې سوکالۍ لاره د یوه ښي او یا کیڼ افراطي ګوند او جنبش تر رهبرۍ لاندې و سرمنزل ته رسولې وي. دا یوازې او یوازې ولسواک، دموکرات او ملي ګټو ته وفادار ګوندونه او جنبشونه دي چې خپل هیوادونه یې دانساني تمدن، سوکالۍ او پرمختګ واوسنۍ لوړ پړاوته رسولي او رهبري کړي دي.

دبشر حقوقو ته احترام هم هغه وخت دمتمدنو ټولنو دندو په اول خط کې قرار ونیوی کله چې نورنو وفقر او وروسته پاتې والي ته ځای نه وو پاتې.

په دې ډول که موږ په خپل هیواد کې دهمیشنۍ سولې او دوام لرونکي امنیت او بالاخره دټولنیزې سوکالۍ غوښتونکي یو. تر ټولو دمخه ضروري ده چې دجنګ ـ جګړې د عواملو د مخنیوي، دفقر دمنځه تلو او دوروسته پاتې والي دپرابلمونو د حل کیدو په باره کې باید فکر وکړو.

دپیړۍ ویوې ځلورمې برخې ته نږدې دئ چې زموږ د ګران هیواد مظلوم اولس دافراطي کیڼو او ښیو عناصرو داستبداد تر خونړیو شرایطو لاندې شپې او ورځې تیروي.

دهمدغوماجراجو ګوندونو، سازمانونو او عناصرو دتحریکاتو په نتیجه کې د افغانستان دوه ځلي د نړۍ د دوو سترو زبرځواکونو تر پراخو نظامي حملو او تیریو لاندې راغئ، د ختیځ او لویدیځ ترمنځ دسړې جګړې په اساس دوینوتویولو او اور بلولو میدان وګرځید. سربیره پر هغه افغانستان دافراطیونو په لاس دومره ناتوانه او کمزوری سوچې په ډېر ځرګند او ډېر بې شرمانه ډول سره یوشمیر ګاونډي او نورو لیري پرتو هیوادونو په پرلپسې توګه دغرض څخه ډکو ستراتیژیو په درلودلو سره په داخل د هیواد کې دمداخلې او لاس وهلو مشق او تمرین کوي. هغوی د خپلو دې شومو اهدافو دپاره د افراطیونو ډلې په داخل کې مسلح کړې او دخپلو اجیرانو او وسیلو په ځیرېې وګمارلې. کار هغه حد ته ورسید چې حتي اشخاص او ځانګړې ډلې داسامه بن لادن او د القاعده سازمان په افغانستان کې داسې مقتدر تروریستي «دولت» ایجاد کړ چې خپله میزبان او میلمه پال دولت دهغه په ایستلو نه توانیده.

په داسې سادګۍ او آسانتیا سره د افغانستان دخلکو دملي حاکمیت حق د یوه خارجي ـ تروریستي باند په وسیله صلب سو.

افراطي ګوندونو او تنظیمونو دخپل سیاسي قدرت په وخت کې په خپل وار سره کمونستي او اسلامي انقلابونه دسیاسي او فونډامنټالستي اسلام په مختلفو شکلونو کې د بهرنیانو په مرسته په افغانستان کې تجربه کړه. ددوئ دافراطیت د ګناهونو او جرمونو په اساس ووچې زموږ ګران هیواد دپیړۍ ویوې ځلورمې ته نږدې نه یوازې د پرمختګ د کاروان څخه شا ته پاتې سو بلکه د آخیرو پیړیو ټول دستاوردونه یې په بشپړه توګه د لاسه ورکړه او نن ورځ په غمیزه توګه د نړۍ د وروسته پاته، فقیرترینه، ویجاړه، بې سواده، تجرید سوي، مهاجر سوي، دمینونو او معلولینو درلودونکي نومول سوي هیواد نسبت او اشاره ورته کیږي.

افغانستان چې تل یې په نړۍ کې دښو او نیکو نوم درلود اوس دخونړې، جګړه ایز، د مخدره موادو تولیدونکي، دنړیوالو تروریستانو د مخفي ګاه دهیواد په نوم دنړیوالو په ژبه او خوله نومول کیږي.

د۱۹۹۲ کال څخه وروسته چې په استثنایي ډول حاکمیت د افراطي ډلو او سازمانونو لاس ته ورغئ روښانفکران، تحصیل لرونکي، عالمان، روحانیون، مشران، دقوم سپین ږیري، ملي شخصیتونه، متشبثین، تاجران او کسبه کاران د پلان سره سم په هدفمنده توګه دهیواد څخه وشړل سوه. په هیڅ وخت او زمان کې دانساني حقوقو تر پښو لاندې کول، دښځې مقام، دماشومان حقوقو او خلګو ته اهانت کول تر دومره ټیټ سرحد او درجې پورې نه وه رسیدلئ، ټولې مادي او معنوي شتمنۍ په قصدي او شعوري توګه نا بودې او تالا سوې.

داسلام د مقدس دین د حکمونو او مفاهیمو څخه دخپلو سیاسي ـ نظامي هدفونو د سرته رسولو په خاطر ناوړې استفادې وسوې، داسلام په هکله یو ویره ونکۍ تصویر انځور کړه سو. د ۱۹۸۹ کال نه وروسته وروروژنه، اسلام وژنه په یوه مسلمان هیواد کې په ډېرې بې شرمې سره د جهاد په نوم ونومول سوه. آیا دغه یوه ځرګنده جفا او خیانت داسلام سره نه وو؟؟ دیوې مسلحې ډلې په واسطه پر یوه ۲۵ میلیوني ملت باندې د ۱۴ قرن د بادیه نشینو عربو په ځیر ژوند تحمیلول یوله هغو بیلګو څخه دئ چې زموږ د هیواد تمدن خوښونکو خلګو عملاً په خپلو ستر ګو ولیدل.

د ۲۰۰۱ کال د مارچ په میاشتې ي د افغانانو او نړۍ والو د زاریو او غوښتنو سره، سره د بامیانو سترې مجسمې چې زموږ دهیواد او د نړۍ تر ټولو با ارزښتو تاریخي او فرهنګي میراثونو دجملې څخه ګڼل کیده په ډیره وحشیانه توګه له منځه ولاړه.

د بودا د تاریخي مجسمو دمنځه تلل دهغه حادثې او پیښې دپاره کوم چې د ۲۰۰۱ کال په وروستیو میاشتو کې په نړۍ کې دنړیوال تروریزم په وسیله ترسره سوه یو شوم فال او د بد مرغۍ پیغام سو، اسلام یې بد نام کړ او افغانستان یې دامریکا د متحده آیالاتو دهوایي پراخو نظامي حملو لاندې راووست.

دغه دئ د «ستري لوبې» پایلې او که په دقیقه توګه ووایو خونړۍ لوبه چې د دوو لسیزو په اوږدو کې نړیوالو سترو زبر ځواکونو، مداخله کونکو همسایه هیوادونو او دافغانستان کورنیو کیڼو او ښیو افراطیونو بې مسؤلیت او خجالت پخپله غاړه اخیستئ دئ.

پاتې ۷ مخ

## ګرانو ځوانانو!

دنوې هيلې جريده به کوښښ وکړي چې تاسو ګران ځوانان دعلم او تخنيک د برياوو سره آشنا کړي او تاسو ته روښانه کړي چې دغه برياوې خصوصاً ټلګراف څه وخت زموږ ګران هيواد افغانستان ته دا ستعمال دپاره راغئ.

**ټلګراف:**

دټلګراف لمړی مخترع دمورس په نوم يو امريکايي دی چې په ۱۸۴۴ ميلادي کال کې يې ټلګراف په کار واچاوه. ده توروته له ټکيو اوخطونو څخه اشاري جوړې کړې چې په برقي څپو اوښتي ټلګراف مرسله (ليږونکي) او آخذه (اخيستونکي) دستګاه درلوده چې مرسلي توري بريښناايزکول اوآخذي هم له هوايي څپواخيستل او بيرته يې په تورو اړول او پر کاغذ يې ليکل. د ټليفون تر اختراع وروسته سيم لرونکي ټلګراف هم جوړسو.

دلمړۍ نړيوالي جګړې په وخت ۱۴۱۹ ميلادي کال کې د آلمان، اطريش او ترکيې يو کډ هيئت کابل ته راغلئ ؤ، دوئ د نورو سياسي چاروترڅنګ دافغانستان داردو په تنظيم هم لاس پورې کړ، چې دخپل کار په جريان کې يې په تحويلخانه کې دبې سيم ټيلګراف يوه مکمله دستګاه بيا موندله چې امير ته يخوا چاسوغات راليږلې وه او دهيئت يوه آلماني غړي رولاند تر ترميم وروسته دبابر باغ په غره کې نصب او فعاله کړه چې دهندوستان ږغ يې پرې اوريده. هندي قونسل هم تر خبريدو وروسته دهمدې ټيلګراف نه دخپل دولت شفرونه اخيستل.

دادستګاه د مارکني په کمپنۍ کې جوړه سوې وه او په دوه کيلوواټه قوه يې کار کاوه. اساساً دا دستګاه چې دځاروو په واسطه له يوه ځايه بل ځای ته ليږدېدله د عسکري مخابرې دپاره وه چې داړتيا په وخت کې د کابل څخه يغمان اوجبل السراج ته مخابره په کيدله. دادستګاه دکارکوونکو نابلدۍ له امله دکاره ولوېده. کله چې په کال ۱۹۱۹ کې افغانستان خپله خپلواکي اعلان کړه نو هر هيواد هڅه کوله چې دافغانستان سره ځان نږدې کړي او تحفې ورکړي، دانګريزانو د سولې هيات چې د«هنري دابس» په مشرۍ کابل ته راغلئ ؤ د ځانه سره يې دبې سيم ټيلګراف يوه دستګاه هم راوړې وه چې په منځنۍ څپه يې دسل واټو په قوه کارکاوه او تر پيښور پورې ټيلګرافي مخابرې پرې کيدلې، نوموړي هيئت دبيرته تلو په وخت کې دا دستګاه د افغانستان حکومت ته وروبخښله او د ټيلګرافي چارو د زده کړو دپاره يې شپږ تنه افغاني ځوانان هم د ځان سره بوتلل چې زده کړې وکړي. همدا راز دشوروي روسيې استاذي سوريس هم په ۱۹۲۰ کال کې د بې سيم ټلګراف يوه دستګاه دځان سره راوړه او دافغانستان د باندنيوچارو وزارت په نامه له يوه رسمي يادانښت سره يې دافغانستان خپلواک هيوادته دروسيې دخوا د يوه سوغات په توګه وړاندي کړ.

داد ستګاه په ارګ کې په کار ولويده او د تاشکند او پيښور سره يې ټلګرافي اړيکي ساتلې.

سيم لرونکې ټلګراف تر ټليفون وروسته اختراع سوئ نو ددې کبله افغانستان ته هم سيم لرونکۍ ټلګراف تر بې سيم وروسته راغلئ دئ، په ۱۳۶۰ کال کې چې د ۱۹۲۵ ميلادي سره سمون لري دسيم لرونکي ټلګراف لين هم دکابل څخه تر تورخم پورې په يوه يوه لينه توګه وغځول سو اودهغې دزده کړې دپاره يې شل تنه افغاني زده کوونکي ومنل، همدا راز دروسيې سره هم دتور غونډۍ تر پولې پورې دسيم لرونکي ټلګراف د غځولو موافقه وسوه او دې خوا ته هم يو لينه ټلګراف وغځول سو. د مزاري شريفې په لاره هم د ټلګراف د غځولو موافقه وسوه او هم په دې برخه کې دافغاني ځوانانو د روزولو دپاره يو ښوونځی په هرات کې د روسي متخصصينو تر نظارت لاندې او بل ښوونځی په کابل کې د ترکيې د استاذانو په لارښودنه جوړ سوه او ځوانان يې وروزل او په هيواد کې د ننه هم د ټلګراف څخه کار واخيستل سو.

ټلګراف په افغانستان کې ورو ورو پراختيا وموندله او په ۱۹۲۸ ميلادي کال کې افغانستان د ټلګراف په نړيواله اتحاديه کې شامل سو اودهيواد ټلګرافي دستګاوې وخت په وخت بدلې او پر مختللې سوې.. اداره.

## ګرانو ځوانانو توجه وکړئ!

زموږ ددې ګڼې سوالونه:

۱- د افغانستان خپلواکي دکوم ملي شخصيت ترقيادت لاندې په کوم کال کې تر لاسه سوه؟

۲- افغانستان په کومه لويه وچه کې پروت دئ او څلورو خواو ته يې کوم هيوادونه پراته دي نومونه يې واخلئ؟

***جوانان گرامي!***

*سوالات اين شماره:*

*۱- آزادي افغانستان تحت قيادت کدام شخصيت ملي کشور ما بدست آمد؟*

*۲- افغانستان در کدام قاره جهان قرار دارد ونامهاي کشور هاي همسايه را بگيريد؟*

## دهيواد دليکوالو، شاعرانو اوعالمانو دپاملرنې وړ خبرتيا!

د ټولو افغاني ليکوالو، شاعرانو اوپوهانو څخه په ډيره درناوي هيله کيږي چې د نوي هيلې دجريدې سره خپلې قلمي اړيکې وساتي. ستاسو دعلمي، ادبي ، تاريخي ليکنواو شعرونو د لارې به دهيواد راتلونکې نسل په خپلو مورنيو ژبو د نړۍ د ټولو برياوو څخه خبرتيا تر لاسه کړي او همدا شان به د خپل هيواد دفرهنګ سره آشنا يې پيدا کړي.

د جريدې د اداري له خوا.

## نوي افغاني بانک نوټونه په ټول هيواد کې بازار ته دچلند دپاره وړاندې سوه:

تيره مياشت د افغانستان دانتقالي حکومت رئيس حامدکرزي په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې اعلان وکړ ډير ژر به نوي بانک نوټونه د پخوانيو بانک نوټونو پر ځاي بازار ته وړاندې شي.

نوي بانک نوټونه چې تر ۱۰۰۰ پورې چاپ شويدي د جعلي نوټونو د مخنيوي په خاطر لازم تخنيک او مواد پکښې کارول شويدي.

د افغانستان بانک رئيس ډاکټر انورالحق «احدي» ويلي دي چې دانوې پيسې د آلمان په فدرالي جمهوريت کې چاپ شويدي. ده وويل هغه پخوانۍ پيسې افغانان کولاي شي د هيواد په ټولو ولاياتو او ولسواليو کې د مخصوصو غرفو دلاري بدلې کړي. خو کله چې نوې پيسې په نوو بد ليږي د لسو زرو افغانيو په مقابل کې فقط لس افغاني ورکول کيږي. د يادولو وړ ده چې تر اوسه فقط کاغذي پيسې چاپ شويدي، دفلزي پيسو درواجولو څخه ددولتي مقاماتو په وينا موقت وخت لپاره ډېره شوې ده.

اوسنی دولتي اداره او ټول افغانان باور لري چې د نورو پيسو په چاپولو سره به په هيواد کې د جعلي او فرميشي پيسود چاپولو مخه ونيول شي اوافغاني پيسې بايد دجهان دنورو هيوادونو اونړۍ والو منل شوو قوانينو په اساس يوازې اويوازې دافغانستان د حکومت اوافغانستان بانک په غوښتنه چاپ او دهغوئ په واک کې ورکول شي.

د ټولو هيوادوالو هيله اواميد ددولت داروند ارګانونوڅخه داده چې د پيسو پر کنترول دقيقه څارنه وکړي او د جعلي نوټونو بازار ته وړاندې کوونکو ته په عمل کې سخته قانوني جزاورکړه شي. په دې صورت کې کيداې شي افغاني په بازار کې يوه اندازه ثبات پيدا کړي.

«اميد»



# ګلونه او رمزونه

## سپرلي ته

هېواد (شېرزاد)

سپرلیه راشه بیا زمونږ پر کلي
بیا مو وطن ته سره ګلونه راوړه
د مستو پېغلو اوربلونو ته بیا
د سرو ګلونو امېلونه راوړه
بیا د نارنج ګلونه وسپړوه
بیا خوشبیانې په هر لور راوله
چې ټول په ګډه ننګرهار ته لاړ شو
بیا خوشالیانې کور په کور راوله
چې بیا ببرې ځنې غټ برېتونه
زلمي جشنونو کې سیلونه وکړي
چې د میلي سرود په مخکې روان
دا ببر سري اتڼونه وکړي
ډېر عمر وشو چا خندلي نه دي
زمونږ په زړو باندې غمونه پراته
زمونږ له شونډو نه مسکا هېره ده
په ګرېوانو کې مو اورونه پراته
ښادیانې نه راځي زمونږ په سیمه
دلته غمونو نه کوځې ډکې دي
پېغلې اوس چاته سینګارونه وکړي
له ښو ځوانانو هدیرې ډکې دي
زمونږه وچو او سپېرو شونډو ته
له سپینو غرونو نه خندا راوله
دغه مات شوي ژوبل، ژوبل زړونه
یو ځلې بیا ته په ګډا راوله
بیا د کلال متې راونغاړه
په سترو متو کې یې زور راوله
چې ښکلو پېغلو ته منګي جوړ کړي
بیا ګودرونو کې لږ شور راوله
دا د سرو وینو او نفاق سیلاب ته
بیا دوحدت ستر، ستربندونه جوړکړه
چې دا د غم سپېره، سپېره بادونه
وربانديې بندشي سپین جګ غرونه جوړکړه
چې بیا د یو بل په خوښیو خوښ شو
داسې مو زړونو کې عزت کېږده
چې ټول یو موټی شو وطن آباد کړو
زمونږ په روح کې صداقت کېږده
سپرلیه بیا به دې سپرلې وبولم
که دې آباد زما ګلشن کړو ببرته
د ژوند تر پایه به دې ستایم ګله
که دې (هېواد) په خپل وطن کړو ببرته
سویډن ۱۵-۹-۲۰۰۲

## آسمان ته

عبد الرشید آرین

اوروه یې اوروه یې — لړزوه یې لړزوه یې
د هغو ناولي زړونه — چې ساتي غنم ګرانی ته
اي برېښنا یوه الغه سه — ورپه غاړه دهغه سه
چې په دې یخ او باران کې — خواران لوڅ کړي سود خوری ته
درنې تالندي غړومبې کړه — پرسودخورو غم ورهی کړه
تورو لړو، خړو خړو — اوبه ډنډې کړئ خواری ته
زیږو ځاځکوسره مله سئ — ستر سیلاب سئ پر راتله سئ
ظلم وزور درسره یو سئ — خاتمه سئ مظلومی ته
اي آسمانه غرغړي کړه — یو وارسترګې پر راسرې کړه
درنې ټکې پر راپر یو زه — یې شه تندر ککری ته
مځکې کش کړه تناوونه — راچپه کړه باندې غرونه
یو ځپه سه زلزله سه — زبیښنا ککرو وماڼی ته
نه نه تیروتم آسمانه — څه شئ نه غواړم له تا نه
کوم اولس چې کتل تاته — ټوله اړوتل خواری ته
خواریکښ ته هك حیران وه — ټوله خپله یې پر آسمان وه
خوله یې تل وې وازه تللي — ویوې ګولی مړی ته
زمونږ ویساپرخپل مړوندده — دا مو لویه اسره د ژوند ده
که یو سوك شوسره یو شو — اړ به نه یو پکیری ته
زمونږچاره یوه چاره ده — انقلاب تیره چاړه ده
ژوند مو ټول مبارزه ده — نه یو ناست زارئ جګی ته

## په آزادی کښې

لطیفه «سخي»

سر مي وغواړه وطنه درجدا یي کړم له تنه
غیرتي یم روزل شوي دارمي نشته له دښمنه
ستا مینه کي یم مسته ستا مینه زما مرسته
د پښتون د توري شرنګ شو دښمنان شول په ازغسته
ستایم ستا په سرلوړی کښې ستا ولس په آزادی کښې
لطیفه یم ستامدیونه ستایم تا په پردېسی کښې
د قلم مي توان نشته پر کاغذ مي بیان نشي
افغان وطن په شان به پیدا وطن بل په جهان نشي

## هنوزهم

*سیدعلی«صالحی»*

*از همان بالا خانه یی نی پوش قدیمی*
*آوازغیر ممکن قمریان مرده‌می‌آید.*
*گم نیستند مایوسان خسته ای*
*که خیال میکنند*
*روزي‌ارواح برباد رفته یی رویاهاشان*
*به‌خواب‌خانه‌برمی گردند!*
*جدا متاءسفم!*
*بهتراست‌برویم*
*برای خودمان‌چای کم‌رنگ‌تازه‌ای‌بریزیم*
*گپی‌حرفی‌بزنیم*
*حالي، حکایتی، حوصله‌ای...!*
*بااین‌ نفش های‌لنگه‌به‌لنگه*
*معلوم‌است*
*رخه‌به‌جای‌نخواهدبرد.*

## که نن نه سبا حتما شي

هر زړګئ زري زري شو، هري لورې غم خانه شوه
هره اوښکه رالویدلې په لمن دغم‌دانه شوه
هر سړي شولو بې کوره، هرماشوم شولوبې موره
د ټوپك زور آوري شوه ورکه شیوه دمردانه شوه
ماویل‌ښه به زماوطن شي،که نن نه سباحتمآشي
دا قصه د څوکالووه ولاړه ولاړه ښه اوږده شوه
لکه شمع سوزیدلی زړګی‌دلطیفې دئ ترقیامته
دوطن، خلکو غم پرې پاتي شوئ پروا نه شوه
لطیفه«سخي»

## غزل

څه تورو ختونه راغله څه تورانې ورځې شپې دي
رڼا یې نه خوښېږي بلاګانې ورځې شپې دي
د وخت بدو دانو زمونږ وینې کړې و چې
له ویرې ورته ښې وایو څه ورانې ورځې شپې دي
فتنې د زمانې، په لیوني وحشت پخې شوې
کوډګروزېږ ولي، څه وحشانې ورځې شپې دي
آسمانه! خوارې مکړه، پښتون هوډ مینه بد لیږي
ستا وخت که مغلکي وي، زما افغانې ورځې شپې دي
منار داستقلال ته په پیریو نذرانه شول
سرونه دزلمیانو شاهدانې ورځې شپې دي
د مور دزړه په باغ کې ګلالي ګلان رژېږي
ګرګرې، ستمګرې، قاتلانې ورځې شپې دي
«ننګ» ځم دلوې ځوان په نوم «علي» را ننګومه
مدد ورځنې غواړم چې ناځوانې ورځې شپې دي
(ننګ) دنمارك ۱۸-۱-۲۰۰۱

## له خوشاله تر ننګیاله

اسحق (ننګیال)

مالي راشه اغزو د زړه په ګل وهلی یم
«سقاو» په زړې تورې د «مغل» وهلی یم
رقیب به مې دزړه له وینوتشه «ژی» کړي ډکه
خو سرمې د ایل نه دې که یې سل وهلی یم
یو ګل څه په مځوې دپښتو د ناوې نه یم
ناره د «اناالحق» یې په کاکل وهلی یم
حیران یم د «اکبر» په مړي بیا څه فساد وشو
پردیو مې د خپل کور په درشل وهلی یم
تقدیر به مو داسې له (خوشاله) ترننګیاله)
همدا چې کله غېرو کله خپل وهلې یم
کابل ۷/۱۰/۱۳۷۴

## د ستورو کاروان

پروین فیض زاده (ملال)

د هیلو تسلسل دآرمانو په سر ویده شو
ملال یې د کتو د پرهرو په سر ویده شو
د ګلو مسکېدلو ته ورمه دسبا راغله
ارمان دغوړیدو یې د غوټو پر سر ویده شو
پیالې داوښکو راکړه چې مې شونډې لږ لمدې شي
زمان دیو خندا مې د لیمو په سر ویده شو
تصویر دخوږې میني چې پریشان شو پریشانئ کې
سبا د تورو زلفود سرو په سر ویده شو
رادرومه چې د ستورو کاروان تاو ته خیرات کړم
خیر توان که دسود اد اننګو په سر ویده شو
په سترګو کې مې بیا ستاد کتلو ګلان جوړشوه
چې ښکلی مغرور خیال دې د یادو په سر ویده شو
خوښې د آسمانونو مې په عرش کې په خندا شوې
چې نقش زما د پلو دا ستا د پلو په سر ویده شو

**«چې کلئ په نامه لري**
**یوخوی تر نورو ښه لري»**

## چېرته يې هنداري

پیر محمد (کاروان)

چېرته يې هنداري بې تصويره يم
راشه چې بې خوبه بې تعبيره يم
راشه چې تناکي پښې دې ښکل کړمه
ورکه سباستړی له شوګيره يم
درد يم په لفظونو کې مې ونغاره
لږ خو مې بيان کړه بې تفسيره يم
شمس مې شه سيقل مې کړه شاعر مې کړه
مست مې کړه محبوب مې شه بې پيره يم
زړه مې وروړ د للمې د کلونو دی
ورک د بارانونو د بهيره يم
خدايه که پښتو راسره ووايي
جار دې له منکر او له نکيره يم
چېرته د سندرو (کاروان) واړوم؟
زه راغلی نن له بم او زيره يم

نريزی، سيندوکی ۱۳۷۲/۳/۱۲

## غزل

هېواد (شېرزاد)

چې در ته سوال د سپينې خولې کومه
ياره خونوم ته دې سجدې کومه
څه دې ښايست څه دې د سترګو اثر
چې په سپېرو کوڅو دې شپې کومه
خلک خپل رب ته په سجدو پراته دي
زه عبادت ستا د کوڅې کومه
چې پکښې ستا ښکلې بشر ووينم
سوځم پانوس غوندې لمبې کومه
ژبه مې ګونګه شه که چې ستا په حق کې
که زه به بل چاته ګيلې کومه
په زړه دې څه دي هغه هم ووايه
نورې سلګۍ وړې، وړې کومه
(هېواده) ناست يم د ديدن په طمع
په تورو شپو کې شوګيرې کومه

سويډن ۲۰۰۲/۳/۱۵

## دهېواد دتاريخ او لرغون پېژندنې د علاقمندانو دخبرتيا لپاره!

دنوي هيلې دخپرونې و ادارې ته هغه نوې کتاب راورسېد کوم چې دښاغلي پوهنوال رسول (باوري) دکابل دپوهنتون پخواني استاد لخوا د « افغانستان درعهد باستان» تر عنوان لاندې ليکل شوی دی په ښکلي صحافت په دې وروستيو وختونو کې د هالند د هېواد د اسن په ښار کې په دري ژبه د چاپه راوتلی دی.

ددې اثر په ليکلو سره زموږ دهيواد په تاريخ اولرغون پېژندنه کې يوه لويه تشه ډکه کړه. موږ په داسې حال کې چې ښاغلي (باوري) صاحب ته د لرغون پېژندنې د لا زياتو علمي اثارو د ليکلو په برخه کې د لويو برياوو هيله کوو، ګرانو لوستونکو ته ددې علمي ـ تاريخي اثر د ويلو مشوره ورکوو.

اداره.

## به اداره‌محترم جریده «نوي هیله»!

دوستان گرامی‌امیدوارم درعالم ناشناسی سلام ها و تمینات نیك مارا بپذیرید.

دوستان!

هفته گذشته در خانه یك از خویشاوندان خود با فامیل ام مهمان بودم درهمان خانه درسالون بالای میز درجمع دیگر اخبار و مجلات یك عنوان جدید به چشمم خورد.

با اجازه دوستم انرا براساس علاقه که با نشرات دور از میهن دارم به مطالعه ان پرداختم، خلص کلام تمام این جریده را به بسیار شوق و علاقه مطالعه نمودم.

چون یك سلسله غلتی های طبعاتی وژورنالیستیك داشت و برای هرخواننده معلوم میگردد ـه نشریه توسط افرادغیرمتخصص چاپ شده من هم عجالتاً به صفحه اول آن دوباره مراجعه کردم خواندم که اولین شماره است. با خود گفتم برادر دردنیای مهاجرت کی مهاجر غریب و بی چاره هیچ نوع امکانات تخنیکی در اختیار نه دارد این هم برای بار نخست کلان گپ وخدمت بزرگ است من ازبارگاه خداوند متعال برای شما و همه همکاران تان در راه این خدمت فرهنگي و وط ني توفیق عظیم تمنا میکنم.

جریده واقعاً مطالب جالب داشت خصوصاً درشرایط که ماها نمیتوانیم معلومات دقیق از وضع سیاسی ـ نظامی کشور بدست بیاوریم این هم امکان خوب و جالب است که از ط ریق چنین جراید و نشرات افغانها میتوانند از احوال اوضاع کشور اگاهی حاصل نماید.

برای شما بهتر معلوم است که وضع در کشور ثابت نیست دیموکراسی وتامین امنیت با مقاومت های عجیب و غریب روبروست هستند کسان که علاقه ندارد درکشور ارامی شود، صلح تأمین و دیموکراسی برقرار گردد تا در نتیجه ان اکثریت مطلق افغانهای اگاه وروشنفکرکه به خون ملت تربیه شده بفکر وروان ارام بوطن خود برگردند. اگر چه در این روزها مخصوصاً درکشورهای اروپای تلاش بر این است که مهاجرین افغان تشویق و بازگشت به وط ن شان گردد و چنین وانمود میسازند که گویا فعلاً درافغانستان هیچ نوع خطر از نگاه امنیت محسوس نیست وبرای همه زمینه کار مطابق مسلك شان مساعد است. درحالیکه به همه گان هویداست که هنوز هم مشکلات فراوان برای بازگشت پناهنده گان افغانی به کشور شان موجود است.

ماهمه افغانیان امید واریم که سران کشورهای اروپا بخصوصو پارلمان اتحاداروپا وهمه جهانیان حداقل به اخباریکه از طریق رسانه های گروهی و اژانسهای خویش بدست می اورند دقیق مطالعه وبه ان متوجه شوندکه در افغانستان چه میگذرد. نه باید به مسئله بازگشت پناهنده گان افغان از دیدگاه منافع سیاسی دید بلکه واقعیت های عینی جامعه وشرایط فعلی را باید پذیرفت.

ما از نشریه شما و از طریق صفحات این نشریه منحث یك افغان تمنا میکنم تا درهرنقطه جهان افغانهایکه چنین نشرات دارد واقیعیت های جامعه افغانی را نشر کنند. واین موضوع رابه گوش جهانیان برساندکی عودت مهاجرین افغانی در شرایط کنونی اقدام است پیش از وقت وهنوز شرایط برای عودت بکشور مساعدنیست.

باتقدیم حرمت، احمد قیص.

شهر لاس انجلس امریکا.

## یاداشت اداره!

دوست گرامی! ما نامه شما را دریافت نمودیم و انراقسمیکه شما تحریرنموده بودی نشر نمودیم. ماعلاقمند یم تاشما و دیگر هموط نان درانجا با مارابطه قلمي داشته باشد.

## هموطنان گرامی!

رهبری مر ـز علمی و فرهنگی افغانها در سویدن و تمام کارکنان اداره نوي هلیه حلول ماه مبارك رمضان را بشما وکافه ملت افغان از صمیم قلب تبریک عرض نموده، ارزومندیم تا به برکت این ماه مبارک رمضان صلح و تفاهم ملی در کشور عزیز ما هر چه زودتر قایم گردد.

## ګرانو هېوادوالو!

د نوي هيلې اداره او په سويډن کې د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز د مشرتابه جرګه ګۍ د روژې د مبارکې مياشتې د رارسېدو په مناسبت د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوي. د لوی خدای (ج) له دربار څخه هيله مند يو چې ددغې مبارکې مياشتې په بر ـت زموږ د اولس څخه ټولې خواری او بدبختۍ کډه وکړي او زموږ هېواد ته سوله راشي.

Nawey Hilla نوي هیله
د امتیاز خاوند:
په سويډنکې د « نوي هيله »خپرونه د ليکونکي ډلې تر نظر لاندې
د امتیاز خاوند: په سويډن کې دافغانانو علمي او فرهنګي مرکز.
مسئول مدير: حبيب الله « غمخور ».

پته: Ghamkhor Habibullah
Snödroppgatan 7
215 27 Malmö
SWEDEN
ټليفون: Tel: 0046-40-21 98 79
موبايل: Mobil: 0046-736511569
E-mail: nawey_hilla@hotmail.com
Online Address:
www.hewad.com/naweyhillah

## دعلمي او فرهنګي ټولنو . . . .

وحشي حیوانات خوري چي اروپايي هیوادونه بیا په خپلو تبلیغاي او نشراتي ارګانونو کي په دي اړوند مفصل خبرونه نشر ته سپاري، خو ددغو ټولو مشکلاتو اوناخوالو سره سره بیا هم ـله چي مهاجرین واروپا اویا نورو امریکايي ، کاناډايي اویا استرالیا ته ځانونه ورسوي نو داسي احساس کوي لکه چي نوي د نیا ته راغلي وي، خو ددوي دپناه اخیستلوپروسه کلونه‌کلونه په برکي ونیسي.
په پردي هیوادو کي دمهاجرتونو شرایط اوحالات داسي راغلي دي چي اکثره اتنیکي ګروپونه تلاښ کوي چي دخپلوخپلوانو اویا دخپلو وطندارانو سره په خواکي ځانونو ته کار پیدا کړي تر څو په لمړیو وختونو کي د وطن څخه دلیري والي په نسبت تر روحي فشار لاندې رانه سي اودبلي خوا اولادونه يې د هغه چا سره ارتباط اواړیکې پیدا کړي چي ددوي په ژبه خبري کوي اوددوي سره یو شان کلتور ولري. داکار ددوو ملحوظاتوپه اساس صورت نیسي :
۱- دوي غواړي چي دخپل هیواد دکلتور سره نږدي اړیکي ولري اود هغه په غښتلتیاکي مثبت رول ولوبوي.
۲- دوئ غواړي چي ماشومانيې خپله مورنی ژبه هیره نه کړي او دخپل وطن د کلتور څخه لیري نه شي یعني ژبه يي ذ ده اودخپل وطن په ټولو عنعناتو پوه وي.
په وا قعیت کي ددغو دواړوامکاناتو په لرلو سره یوه ډیره ستره دنده چي د دیر اهمیت وړده هغه د ماشومانو په روزنه کي په مورنی ژبه لیك، لوست کول او د خپل کلتور او عنعنو سره بشپړه آشنایي اوبلدتیا ده چي د ماشوم اونوي ځوان د راتلونکي وطني شخصیت په جوړښت اوټا ـلو ـي ډیر لوي او باارزښ نقش لري.
ددي ستراووطني خدمت دسرته رسولو په خاطر پوه،بادرده اواحساس لرونکي روښانفکران تلاښ‌کوي چي دمختلفوعلمي، فرهنګي اوکلتوري ټولنو، اتحادیو اویا سازمانونو د لیاري د ـوربه هیوادونود علمي، فرهنګي، کلتوري او نورو اړوندو موسسو مالي او مادي مرستي جلب او ددي لارې خپلو خلکو ته ددمت مصدر وګرځي، ددي خد مت تر څنګ د روښانفکرانو یوه بله عمده دنده داده چي ځوان نسل ته باید دعالي اخلاقو، معقول او منطقي بر خورد شیوه او په خپله مورنی ژبه د هغو وښووني او روزني ته خاصه پاملرنه وکړي.
ده بده مرغه په دي وروستیو وختونوکي لیدل کیږي چي یو شمیر مهاجر ځوانان د پر مختللي صنعتي هیوادو یو لړ ناخوالي او نه منل شوي اخلاق د ځان پیښه ګرځوي ، پلرونه يي یا د یو لړ عیني دلایلو په وجه د هغو په سالمه تربیه توانید لئ نه دي اویا يي هم خپل واك اوتا ثیر پر هغو دلاسه ورکړئ دي.
په ډېر افسوس چي ددي خالیګاه په اساس دي چي په اروپايي هیوادوکي یو شمیرناسیو نالست ګوندونه اوګروپونه په دیره ناوړه توګه دمهاجرینو پر ضد په خپلو تبلیغاتو کي ددي څخه استفاده کوي. اود خپلو خلګو ذهنیتو نه دمهاجرو پر ضد راپاروي اودخپلو هیوادودټولوسیاسي ـ اجتماعي او اقتصادي ناخوالو اوبحرانونو درانده پیټي د هغوي پر اوږو ور اچوي. سره له دي چي د جینوا دکنوا نسیون مندرجه مواد او دبشر د حقوقونړی واله اعلامیه په دي اړوند په سراحت سره د پرابلمونو دحل لاري چاري بیان کړیدي مګر بیا هم مهاجرد ډول ډول مشکلاتو اوستونزو سره مخامخ دي .
پر ځاي ده چي ټول مهاجرین فرد فرد باید د خپل اولاد وراتلونکي ته په ډیر دقت متوجه سي اود همدغو اتحادیو، ټولنواویا سازمانونو دهمکاری دلاري د نوي نسل سره چي په حقیقت کي زموږ آینده هم په هغوئ پورې تړلي ده مرسته وکړي چي هغوئ په ټولنه ـي معقوله لار پیدا ـړي اود ټولو اجتماعي مرضونو څخه چي دسرمایه داري ټولني زیږنده دي ځانونه وژغوري.
په سویډن کي دپراخې دموکراسی په موجودیت سره دځوانانود سالمي روزني لپاره‌یو شمیرزیاتي ټولني، اتحادیي، او سازمانونه د ډیروزیاتومادي او معنوي امکاناتو په درلودلو سره دهغوي د سالم مصروفیت په ترځ کي کار او فعا لیت کوي.
نو پر موږ ده چي د همدي امکا ناتو په موجدیت ـي د ټولني په سیاسي ـ اقتصادي او فرهنګي چارو کي فعاله ونډه واخلواو د ځوان نسل و راتلونکي ته په دقیقه توګه عملي اقدام وکړو.
غمخور.

## عبد الرشید آرین

عبد الرشید آرین د۱۳۳۸ کال راهیسې لیکني کوي چي د کندهار په طلوع افغان او د کندهار په مجله کي د آرین او هم د حمیدې په مستعار نوم خپرې شوي. ځني داستانونه، شعرونه او مقالي يې دنوروژبو څخه هم ژبا ړلي او چاپ شویدي.
آرین علاوه د پښتوژبې په درې، انګلیسي، اردو، روسي او عربي ژبو هم ښه پوهیږي اکثر شعر لیکي یو شمیر شعرونه يې د هیواد په مطبوعاتو کي خپاره شوي دي .
د شعر نمونه يي په ګلونه اورمزونه پاڼه کې لوستلائ شئ
له « دا لیکوال اوداڅیري» څخه
د افضل (ټکور) لیکنه:

## *معرفی یک شاعر پر آوازه ایران :*

*سیدعلی« صالحی» یکی از شاعران پر آوازه ایران است که درین اواخر مجموعه اشعارشان که دروصف افغانها خوانده شده به چاپ رشیده، ما با ابراز سپاس از احساس بشر دودوستانه آقای صالحی، یک نمونه از شعر آن را به نشر میسپاریم و برای شاعر گران مایه طول عمر وموقیت های بیشتر تمنا مینمایم.*
*شعرشان در صفحه ګلونه او رمزونه میخوانید .*

## *به اداره محترم نشریه نوي هیله!*

*امید وارم سلامهاي ما را بپزیرید. واین چند خامه افکار بنده که میدانم وافر از اشتباهات میباشد برای تان فرستادم. امید وارم نخست از همه اګر اشتباهی در کلام موجود است با آئینه صفای ذهن خویش آنرا صیقل ببخشید که با ګرفتن اشتباهاتم مرا افتخار خواهید بخشید وبعد چشم انتظار نشر این سروده هاي (بی پر و بال) خویش را در نشریه های غنی از ادبیات شما دارم.*
*سعادت هاي وافر شما لطیفه «سخي»*

### *خواهر ګرامي!*

*نا مه واشعارتان به این اداره مواصلت نمود ماتلاش مینمایم تا با استفاده از امکانات خویش آنرا به نشر بسپارم به امید همکاری دائمی تان!*

## طرح

*اي دهقان زمین های دور دست خدای*
*به من بګو*
*در سر زمین بز ری از چی داری؟*
*مهر و صفا*
*و یا*
*امید آرزو ها*
*و یا*
*عشق صفا*
*به من بګو افسانه کشتزارت را*
*که*
*این زمینت را از چه آب میدهي؟*
*از خون دل*
*و یا*
*انتظار*
*و یا*
*اشک عشاق*

*(از لطیفه)*

## یادونه:

**د نوي هیلې جریدې ته رالیږل شوي مطالب بېرته نه ورکول کیږي او د خپرولو حق يې د تحریر د هیئت سره دی.**
**د نوي هیلې په جریده کې خپاره شوي مطالب د همغو لیکوالانو نظرونه او عقیدې څرګنده وي.**
**نوې هیله دهغوئ مسئولیت په غاړه نه اخلي.**

وهاب (سرتېر)

**خوشالیږم افغانان چې راټولیږي**
**په هر نوم او هر عنوان چې راټولیږي**
**رانه جوړ به یوه ورځ د کابل سیند شي**
**لکه څاڅکي د باران چې راټولیږي**

وهاب (سرتېر)

دا زړه د چنار ونه ده او ډېره
اور به اخلي نن سبا د خپله هډه
ددې ونې لاندې ناست مخلوق به سوځي
که جګ نه شي او بار نه کړي خپله کډه

# Nawey Hilla



**Afghanska Akademiska Centers Tidningen**

**Nawey Hilla** **Nr 2** **September & Oktober** **2002**


## Firandet av Afghanistans självständighetsdag i Malmö.

För första gången i Sverige firades Afghanistans självständighet som erkändes för 83 år sedan. Firandet arrangerades av Afghanska Akademiska Kultur Center, AAKC. I arrangemanget deltog mer än 300 gäster, däribland närvarade afghaner, gäster från andra nationaliteter samt representanter från de olika politiska partierna och olika föreningar. Festen inleddes av Mahtabudin Nezami, som läste en sura ur Koranen. Därefter välkomnades gästerna av Afghanska Akademiska Kultur Centrets ordförande, Dr. Khalil Safi. Dessutom gav Dr Khalil en kort historisk tillbakablick med anknytning till dag.

Programmet som leddes av Adela Rahmatzai, Mallay Mohmand och Belqis Lali, var indelad i två delar. Under första delen framförde talare sina budskap. Bland andra talare närvarade Zalmai Mohaqiq som är ordförande för Afghanska Kulturföreningen i Danmark, Hewaddost som är journalist för tidningen *Khpallwaki*, ordförande för Allmänna Iransk Kulturföreningen, Iranska Akademiska förening, representanter från Albanska och arabiska kvinnoförening, Afghanska kvinnoförening, Afghanska Ungdomsförening samt representanter och kandidater från olika politiska partier.

Dessutom gynnades föreställningen av unga begåvande afghaner som läste upp sina dikter. Under pausen bjöds samtliga gäster på tilltugg, dryck och frukt. Afghanska ungdomar med sina nationaldräkter svängde med på afghansk nationaldans, Attan. Andra delen fylldes av toner med levande arabisk och afghansk musik. Afghansk musik framfördes av Amanullah Amiri, Kabir Amiri, Homajon, Haroon, Najib och Bahir.

Vi går tillbaka för att skriva en kort sammanfattning av Afghanska Akademiska Kultur Centrets bakgrund. Under april månad 2002, samlades ca 80 afghanska yrkesmässiga akademiker i Holmas matsal. Under invigningen deltog Luciano Astudello, som är representant för Socialdemokraterna i Malmö. Det beslöts att AAKC skulle ha en skrift med namnet *Nawey Hilla* (som betyder Nytt Hopp), detta är andra numret av *Nawey Hilla*.

AAKC har under denna tid hållit i följande aktiviteter;

- I juni månad bjöds ca 300 afghaner och representanter från andra föreningar och nationaliteter för att bli informerade inför valet, representanter från olika politiska partier fick framföra sina budskap samt svara på deltagarnas frågor. Arrangemanget var i samarbete med Arbetsgruppen inför valet 2002.
- Fyra mindre möten om integration och regler om samhället i Sverige har ägt rum. Representanter från olika myndigheter och organisationer har hållit i föreläsningar.

AAKC, har mindre arbetsutskott som jobbar med bland annat aktiviteter för ungdomar och kvinnor. Däribland pågår kurser i hemspråksundervisning, historia samt musik för barn och ungdomar. Dessutom har ungdomarna lag i volleyboll och fotboll. Afghanska Akademiska Kultur Centret har även planering för att kunna arrangera aktiviteter för barn och ungdomar inom teater, poesi och litteratur, inte enbart på hemspråk utan även på svenska i samarbete med deltagare från andra nationaliteter. Samtliga aktiviteter pågår i lokaler som har erbjudits från Integration och Träffpunkt. Vi är tacksamma för deras samarbete och generositet, hoppas att vi kan fortsätta vårt samarbete med dem även i framtiden. Afghanska Akademiska Kultur Centret välkomnar samtliga organisationer och föreningar för förslag på samarbete.

Vid pennan, Habib Ghamkhor
Översatt av: Mallaly Mohmand

## Alla är vi människor

En kom hit för att fly från nöden.
En kom hit för att undgå döden.
En kommer hit att av terror tvungen.
En kommer hit för att gifta sig med kungen.
Dom är tyskar, iranier, greker och turkar.
Mest är dom snälla, andra är skurkar.
En del är ärliga, andra skumma.
En del är genier, andra dumma.
Mest är dom fredliga, andra vill slåss.
Med andra ord: **Dom är som oss.**
Med fel och brister, tuffa och mjuka.
Fast inte lika avundsjuka…
Vissa är färgade, andra är arier.
Som köper sin bruna färg i solarier.
Vissa är svarta andra är gula.
Vissa är vackra, andra är fula.
Men fast dom ibland av annan färg
Är de precis som vi i Sverige.
Och när de vill jobba hör är tacken.
”Ni får inte jobba ’n för facket”
Som inte kan sjunga. ”We shall overcome”
Och inte kan ”rulla di rulla” som vi.
Och dom blir sällan så fulla som vi.
En del är mer judar än vi.
En del har andra Gudar än vi
En del söker lugnt istället för bråket.
Der enda vi svenska kan bättre ät språket.
Det sägs att vi stammar från Adam och Eva.
Som inte var svenskar -men jag må dom leva!

**Av Bosse Parnevik**

## Folkuniversitetet

Folkuniversitetet är ett studieförbund som bedriver folkbildning och vuxenutbildning på ett 40–tal orter i Sverige.
Med anknytning till kopplinga till universiteten innebär bl. a. Att universitetens lärare, forskare och studenter engageras i folkbildningsarbetet på olika sätt. Eftersträvar generellt att vetenskapligt grundade kunskaper och synsätt förs fram i våra kurser och utbildningar.
Vi vänder oss till enskilda människor som vill utveckla och fördjupa sina kunskaper och kulturella intressen.
Deltagarnas önskemål och förutsättningar styr uppläggningen av undervisningen.
Språkkurser, utbildningar utomlands och olika internationella projekt är några exempel på Folkuniversitets internationellt inriktade aktiviteter.
Målet är att öka människors kunskaper i språk, om internationella relationer och kulturer i skilda delar av världen.

# Afghanistan efter kriget

Afghanistan är långt ifrån fred, men situationen är tillräcklig utvecklad för att börja prata om en framtid och än finns inte en glimt av ljus för landets utveckling.

Redan innan 1979 var Afghanistan ett av världens fattigaste länder. Sedan dess har den sociala och ekonomiska situationen bara försämrats. Enligt uppgifter som FN:s utvecklingsprogram UNDP:s talesman presenterade i januari här talibanregimen länsat landets alla resurser innan de flydde fältet. Centralbankens kistor var tomma, kom det fram när landets finansminister mötte UNDP. Landet är mer än någonsin beroende av utländskt bestånd. Av de beräknade 150 miljarder dollar som behövs för att återuppbygga Afghanistan, har endast 19 miljoner dollar kommit in drygt 0,1 promille och även det har hamnat hos krigsherrarna.

I östra Shura anklagas exempelvis en anti-talibansk milis som samarbetar med USA för att ha kapat fyra lastbilar med ris. FN:s talesman för bestånds insatsen i Afghanistan har påpekat att beståndsarbetet hindras när hjälporganisationerna gång på gång bestulets på mat ämnade för behövande.

Från EU:s sida hävdes det att bestånd ska ges endast till de områden där makthavarna står för säkerhet och stabilitet. Samtidigt påpekar man från EU:s sida att Afghanistan fortfarande är krigszon.

- Den här omfattande osäkerheten beror på en kombination av etniska motsättningar, kriminalitet, ej exploaterad ammunition och minor. Men det beror också på, vilket är mer oroande än någonting annat, attityden hos de krigsherrarna som fortsätter att blockera eller plundra konvojer med humanitär bestånd, säger Poul Nielson, EU:s beståndskommissionär till IPS.

En av de ledande personerna i nätverket bland de afghanska akademikerna, Habibullah Ghamkhor, är stark skeptisk om den pågående processen leder till en varaktig fred i Afghanistan.

- Gårdagens banditer och rånmördare har idag blivit ansvariga för folkets rättsäkerhet och samhällets stabilitet. Det blir krig så snart de bli osams sinsemellan.

Orsakerna till detta är flera. Delvis har de olika krigsherrar som ingår i den USA-allierade styrkan haft brottslig bakgrund och är kopplade till diverse fundamentalistiska organisationer. Med vapen i handen utgör de ett hot mot demokrati och när som helst kan återigen kräva att Afghanistan ska styras efter *tanzimat*, (Sunni-islamisk lagstiftning).

Som enda lösning menar han att en internationell fredsbehövande styrka under FN-ledning ska installeras i landet.

- Det är viktigt att de stater som har intresse av att lägga sig i Afghanistan inrikespolitik inte är med i denna styrka. Länder om USA, Ryssland, Iran och Pakistan har länge infekterat den afghanska politiken för sina internationella eller regionala intressen och deras inblandning ger ingen garantier för en stabil utveckling.

Jag frågar om EU-stater kan ingå i en sådan styrka. Efter en stund tvekan nickar han positivt.

- Det är klart att en del av EU-länderna har ett ekonomiskt intresse av att vara i Afghanistan. Men för att de ska vinna ekonomiskt måste Afghanistan bli stabilt, och där har vi kanske samma intresse. Det är ett pris vi måste betala för att få fred i Afghanistan.

Han menar att främsta uppgiften för den internationella insatsen måste vara att avväpna de olika grupperna och skapa en gemensam ordningsstyrka som inte står under någon etnisk, religiös eller politisk grupps ledning. Han betonar att denna så kallade polisstyrka inte behöver vara stor.

- Om vi får hjälp från FN att avväpna de afghanska krigsherrarna, så försvinner mycket av brottsligheten, så även den med narkotika handel. Då behöver vi inte så många poliser i landet.

**Hotar demokratin**

Traditionellt samlas det nationella rådet vid viktiga frågor och när man vill ha stark mobilisering kring besluten. Så har man gjort till exempel när det gällde att ta ställning inför världskrigen. Då beslöt det nationella råder att Afghanistan inte skulle delta i kriget, och det gjorde man inte heller.

Habibullah Ghamkhor menar att idag är besluten i det nationella rådet påverkade av de paramilitära gruppers inflyttande.

Det afghanska problemet är komplext och därför måste åtgärderna vara mångdimensionella.

- Delvis måste vi avmilitarsera, delvis måste vi arbeta för stabilisering och i denna riktning är det viktig att vi demokratisera landet också, menar han.

Han betonar också att i fredprocessen i Afghanistan beror alla afghaner och inte bara de utbildade befolkningen, och den tysta majoriteten ska få möjlighet att påverka fredprocessen så att framtiden ska tillhöra alla afghaner.

- Representantskapet ska inte byggas på enisk eller religiös samhörighet, utan på vad man tycker och vilket kompetens man har. Helst ska de inte vara i komplott med någon av de stridande parterna som har ödelagt Afghanistan.

Babak Rahimi.

Uttag från MANA tidningen.